تل افغان

www.talafghan.com

خپلواکه ، ناپیيلي ، ټولنیزه او فرهنګي وېب پاڼه

محمد امین بسمل

دنړۍ په مخ ټولو وګړو په تېره بیا زموږ مظلومو افغان خویندو وروڼو ته دښکلي پسرلي او نوي ۱۳۹۰ لمریزکال مباره کي وایم خو له بده مرغه دادری لسیزې کیږي چې موږ دغم په ټغر ناست ناست یو ځکه مې دعیني حالاتو پر بنا یو مخمس شعر دشپې ولیکه هیله من یم چې په چاونه غمیږي ، دشعر عنوان دی:

## دلته مه را ځه سپرلیه

http://nakhtar.bloguna.tolafghan.com/posts/15153









مالومېږي را روان یې په ځولۍ کې دي ګلونه

ته خبر نه یې که څنګه شپه او ورځ ووري بمونه

سر په سر جنازې درومي لوېشت په لوېشت دي لحدونه

هم مو مال هم مو عزت لوټ هم مو سوځي تاریخونه

دلته مه را ځه سپرلیه هره خوا بل دي اورونه







ښه پوهېږوله ښه نېته را روان يې زموږ خواته

نه تم کېږي نه ځنډېږي را ځي ښکلي پښتونخوا ته

اوس هغه وختونه نشته څوک دي ګوډ د چا ملا ما ته

هردم ژوند غنيمت بولو تمه نه لرو سبا ته

لا خبر نه يې چې دلته قتل عام شول ولسونه

دلته مه را ځه سپرليه هره خوا بل دي اورونه





زموږ داسې بد نصيب دی موږ هر وخت يو کړېدلي

نه په چاپسې يو تللي نه په چا يو وردانګلي

يونانيان که انګرېزان وو دوی اشغال ته وو راغلي

دوی خو څه چي روسان هم دلته په شرم شرمېدلي

دا ځل داسي لېوان راغلل ور سره دي وحشتونه

دلته مه را ځه سپرليه هره خوا بل دي اورونه





دزړه سره پسرليه په موږ ګران يې زموږ خوښېږي

داسي نه چي زموږ مېلمه شي بيا له موږ سره کړېږي

موږ په خپل کور واکمن نه يو ته يې پوه که نه پوهېږي؟

ټول به تا ته يو خوابدي ته به هم موږ ته ځورېږي

له نيمی لاري درګرزه بيا به وکړي ارمانونه

دلته مه را ځه سپرليه هره خوا بل دي اورونه





موږ پوهېږو تنها نه راځي راوړي رنګين ګلان ته

له ګل بوټو او ګل ځانګو سره يو ځای بلبلان ته

کور آباد کارغان دي خوښ نه دي راوړي شينکي طوطيان ته

ګل سرخ او نارنج ګل راوړي نښترو ته بازان ته

نن زموږ نغمه خاموشه نه غږېږي ربابونه

دلته مه را ځه سپرليه هره خوا بل دي اورونه



نن زموږ په کور ماتم سړي خواره راغلل اسيا ته

بهانه ديموکراسي کړي چل يې جوړ دی لويې غلا ته

افغاني ګلبڼ يې وسو هم عراق اوس ځي ليبيا ته

دعربو کوردې وران شي لا دوست وايي امريکا ته

دا خو هغه ځناور دي چې يې وران کړل خپل برجونه

دلته مه را ځه سپړليه هره خوا بل دي اورونه






موږ ته خدای راپېښنه کړې چې سوځيږو لړ اوبر

موږ مغرور يو کبرجن يو موږ هر يو يو دخپل سر

نورو خپلو کې لاس يو کړ هغوی مشر کړ خپل خر

موږ له هرچا ځان لوړ بولو خو لا نه لرو رهبر

ځکه زه بسمل کړېږم ناسورشوي مې زخمونه

دلته مه را ځه سپړليه هره خوا بل دي اورونه



مالومېږې را روان يې په ځولۍ کې دې ګلونه

ته خبر نه يې که څنګه شپه او ورځ ووري بمونه

سر په سر جنازې درومي لويشت په لوېشت دي لحدونه

هم مو مال هم مو عزت لوټ هم مو سوځي تاريخونه

دلته مه را ځه سپرليه هره خوا بل دي اورونه